# ځای په ځای کېدا او نور ډېر شیان

د کډوالو لپاره معلوماتي لارښوونه

د دولتي  لومړنی استوګنځی په هکله

په زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt کي

- **د لومړنی استوګنځی کړنلاره**
- **د پناهندګۍ پروسه**
- **د ادغام وړاندیزونه**



## ښه راغلاست ساکسن_انهالت Sachsen-Anhalt ته!

تاسو د زاکسن_انهالت Sachsen-Anhalt ایالت لومړني استوګنځي ته رسېدلي یاست او د پناه غوښتني د کړنلارې په پیل کې یاست. دغه استوګنځی د دغه ایالت د اولني استوګني مرکز ده.
ساکسن_انهالت Sachsen-Anhalt یو کاسمیپولیټان فدرالی ایالت دی. موږ هڅه کوو چې تاسو ته په غوره ممکنه توګه ځای درکړو او په لومړي پړاو کې ستاسو لپاره ادغام ته دروازې پرانیزو. ډیر خلک د دې لپاره په خپله خوښه یا په خپل خالي وخت کې د ملاتړ لپاره چمتو دي.

د دې لپاره چې تاسو ته دا اسانه شي چې د خپل لومړني استوګني مرکز شاوخوا لارې ومومئ او د پناه غوښتني په کړنلاره کې له تاسو سره مرسته وکړی شي ، موږ ستاسو د پاڼي کیدو د دې لومړی پړاو په هکله مهم معلومات په لاندې پاڼو کې راټول کړی دی ( د معلوماتي بشپړوالی تر ۲۰۲۱ کال پوري په نظر کې نیول شوای ده)

کارکوونکي او رضاکاران په ژمن سره د ددې هڅه کوي چې تاسو ته د امکان تر حده د ښه ژوند شرایط برابر کړي. په هرصورت ، کله نا کله بیا داسي هم پیښیږی چې پروسې او کړنلارې د توقع څخه ډیر وخت نیسی. په داسې حالاتو کې، هڅه وکړئ چې له صبر څخه کار واخلئ. د دې حقیقت لپاره چمتو اوسئ چې د ادغام ټوله پروسه اوږده ده او کېداي شي چې خنډونه هم پکې وي.
په داسي حالتونو کې خپل صبر او حوصله له لاسه مه ورکوئ.

ستاسو د استوګنې په لومړنی مرکز کې، تاسو کولی شئ په خپله په دې کې ونډه واخلئ چې د مختلفو ملتونو او کلتورونو خلک وکولای شی په بریالیتوب سره له یو بل سره یو ځای ژوند وکړي.
حتی که دا تل اسانه نه وی خو تجربې څرګندوي چې د درناوی او متقابل پاملرنې سره ډیری ستونزې په ګډه حل کیدی شي. موږ امید لرو چې دا لارښود مهمو پوښتنو ته ځوابونه ووایی او تاسو سره د هغو خلکو سره په اړیکو نیولو کې مرسته وکړي، څوک‌چې کولی شی تاسو سره ستاسو د لارې په موندلو کې مرسته وکړی.

**موږ تاسو ته د تاسو د راتلونکي لارې لپاره د ښو هیلو غوښتونکي یو.**



## د دې معلوماتي پاڼي په هکله

دا معلوماتي پاڼه د هغو کسانو لپاره ده چې په زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt کې د پناه غوښتنه کوي.
دا د اړینو پروسو، د پناه غوښتني د کړنلارو او په آلمان کې د ژوند کولو په هکله لومړنی لارښوونه ده. دا د تفصیلي انفرادی مشورې ځای نه نیسی.

**لطفا په یاد ولرئ:**
پدې مقاله کې تر ۲۰۲۱ کال پورې معلومات او بدلونونه شامل دی. د ټولو معلوماتو د بشپړتیا تضمین نه کیږي. د نورو معلوماتو لپاره به ددغه لاسوند په ځانګړو برخو کې د پوه اختیاردارانو نومان یاد شوي دي.
په دغه معلوماتي پاڼه کې د تاسو د لومړني استوګنځي نقشه د تاسو د لاروښووني لپاره ښودل شوي ده.
د معلوماتي پاڼی انټرنیټي نسخه په www.integriert-in-sachsen-anhalt.de کې د ساکسن – انهالت Sachsen-Anhalt د ادغام او معلوماتي انټرنیټي پاڼي له لارې په څو ژبو شتون لري.
**نوی:** تاسو کولی شئ زموږ ویب_ایپ Web-App هم وکاروئ http://erstinfos.de!

خپروونکي د ساکسن_انهالت Sachsen-Anhalt ایالت د پناه غوښتونکو د مرکزی اړیکو د مرکز له کارکوونکو او د کریتاس Caritas د پناه غوښتني لپاره د مشورتی خدمتو څخه مننه کوي، چې د لاسوند په چمتو کولو کې یې مرسته کړي ده.
د ساکسون انهالت Sachsen-Anhalt د کډوالو د شورا څخه د هغوی د څرګندونو او انتقادی تبصرو لپاره هم مننه کوو.

## په زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt کې لومړنۍ استوګنه.
## مقررات ـ پالنه ـ وړاندیزونه

### د لومړنیې استوګنې کړنلاره

تاسو چې د پناه غوښتونکی په توګه المان ته راغلی یاست او غواړئ د پناه غوښتنه وکړئ، تاسو ته به د چارواکو لخوا د پناه غوښتونکو لپاره لومړنی د استوګنې مرکز په یو ځانګړی فدرالی ایالت کې وټاکل شي. دغه ټاکنه د برخه لرلو د سیسټم پراساس سرته رسیږي.
د زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt په ایالت کې لومړنی استوګنځی په هالبرسټاډ Halbestadt کې د پناه غوښتونکو لپاره د مرکزی اړیکو مرکز (ZASt) لخوا ترسره کیږی. ځاست ZASt د ځانګې دفترونه او بهرنې دفترونه هم لری.
په ZASt کې ، د پناه غوښتونکی په توګه ستاسو لومړنۍ استوګنه (ثبت) ترسره کیږی. دلته به د تاسو شخصی معلومات ثبت شي ، د تاسو عکسونه به واخیستل شي او د ګوتو نښې به مو هم واخیستل شي.
که ستاسو د اصلی هیواد څخه د پناه غوښتنې غوښتنلیکونه په ساکسن_انهالت Sachsen-Anhalt کې تر سره کېدونکې نه وي ، نو کارکوونکې به تاسو د تاسو مسؤل فدرالی ایالت ته واستوي ترڅو تاسو هلته د پناه غوښتنې غوښتنلیک وړاندې کړئ.
ZASt د هالبرسټاډ Halberstadt د راتګ مرکز برخه ده. هلته تاسو لومړي طبی معاینې ، استوګنځی ، خواړه او د ژوند نور اړتیاوې ترلاسه کولای شئ. تاسو به دلته یا په نورو د ZASt په ځایونو کې پاتې شئ تر هغه چې تاسو ته ښاروالی ټاکل کیږي او د تاسو ټرانسفري راځي.

که تاسو بل فدرالی ایالت ته نه ولیږل شئ ، نو تاسو به د خپل پناه غوښتنې د کړنلارې ټولې مرحلې په داسې حال کې تیروئ چې تاسو په ZASt کې ځای په ځای شوي یاست. د هالبرسټاډ Halberstadt په سیمه کې د مهاجرت او کډوالو لپاره د فدرالی دفتر (BAMF) د څانګې دفتر هم شتون لري. بمف BAMF ته خپل د پناه غوښتنې غوښتنلیک وړاندې کړئ.






## تاسو باید په خپل ځای کې پاتې شئ

ستاسو د لومړنۍ استوګنې په وخت کې ، د اقامت او استوګنې مکلفیت شتون لری (په اکثره حالتو کې د اوسېدنځی مکلفیت هم بلل کیږی). دا پدې معنا ده چې تاسو یوازې په یوه ځانګړې سیمه (ولسوالۍ یا خپلواک ښار) کې د پاتې کیدو اجازه لرئ. د استوګنې مکلفیت ددې لپاره ده چې چارواکی هر وخت تاسو ته لاسرسی ولری او تاسو ته په وخت مهم سندونه درکړل شی. دا لږترلږه د دریو میاشتو لپاره د اعتبار وړ دی یا تر هغه وخته چې تاسو مکلف اووسئ چې د لومړنی استوګنځی په ځای کې پاتې شئ.
د مثال په توګه ، که تاسو غواړئ د خپلو خپلوانو سره لیدنه وکړئ یا د نورو دلایلو لپاره د لومړنی استوګنې ځای پریږدئ ، نو تاسو جواز ته اړتیا لرئ. د دې سند د ترلاسه راوړلو لپاره کولای شئ د بمف BAMF له ادارې څخه غوښتنه وکړئ.
یوځل چې اجازه درکړل شی ، نو بیا کولای شئ ستاسو د سیمې مسؤل پولنیز کارمند ته ستاسو د نشتوالی په اړه خبر ورکړئ! که تاسو پرته له اجازې ساحه پریږدئ ، نو تاسو ممکن جریمه شئ ، او د تکرار په صورت کې د جنایی کړنلارې سره مخامخ کیږئ.




### د استوګنې په لومړنی مرکز کې د پاتې کېدو موده

د قانون له مخې، د استوګنې په لومړنی مرکز کې د پاتې کیدو موده عموما تر ۱۸ میاشتو پورې وی، او د هغو کورنیو لپاره چې کوچنې ماشومان لری حد اکثر ۶ میاشتې وی. د پناغوښتنې واقعې موده ستاسې د پناغوښتنې په اړه په پریکړه او د پناغوښتنې په پروسه کې ستاسې ګډون پورې اړه لری.

که تاسو د بې خطره هیوادونو څخه راغلی یاست لکه د اروپایی اتحادیې غړی هیوادونه، البانیا، بوسنیا هرزګوینا، ګانا، کوسوو، مقدونیه، مونټینیګرو، سینیګال یا سربیا، نو ډېر کم احتمال شتون لري چې ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک په رسمیت وپیژندل شی. که د بمف BAMF له لوری هیڅ ډول د خطر شتونوالی په رسمیت ونه پیژندل شی، نو مکلف یاست چې تر هغه وخته پورې د استوګنې په لومړنی مرکز کې پاتې شئ تر څو چې له هیواده ووځئ. د هغو کورنیو لپاره چې کوچنی ماشومان لری ، د ۶ میاشتو اعظمی موده هم دلته پلی کیږی.

## استوګنه

تاسو به د اړتیاو او امکاناتو سره سم د ځاست ZASt د استوګنې په بېلابېلو ځایونو کې ځای په ځای شئ. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د انفرادي استوګنې حق شتون نلري. د استوګنې ډېرې برخي په ګډو خونو کې ترسره کیږي. که تاسو کومه پوښتنه یا ستونځه لرئ ، مهرباني وکړئ د خپلي سیمې مسؤل ټولنیز کارکوونکیو سره اړیکه ونیسئ.

## د ښځو لپاره ځانګړی حفاظت

هغه ښځې چې یوازې یې سفر کړای وي یا د خپلو ماشومانو سره، هغه به په ځانګړې ځایونو کې ځای په ځای شی. په دې برخه کې د ټولنیزو کارکوونکو له لوری مشورې ورکول کیږی. په مشورو کې ، تاسو کولی شئ په ښکاره ډول خپلې شخصي ستونځې حل کړئ. ټولنیز کارکوونکی به ستاسو شا ته ودریږی او په ټولو پوښتنو او ستونځو کې به ستاسو ملاتړ وکړی.

## جنسي هویت

په المان کې هیڅوک نشي کولی چې څوک د هغه د جنسي تمایل (سمسور ، همجنس ، دوه جنس ، ټرانسجینډر ، ټرانسجنسی ، انټرجنسی او کوېر (عجیب) خلکو) له امله تبعیض کړی. که تاسو کومه پوښتنه لرئ او / یا د مشورې مرکزونو سره د اړیکو په لټه کې یاست، مهرباني وکړئ د خپل ټولنیز کارمند سره اړیکه ونیسئ. د ځانګړی مشورې خدماتو لپاره معلوماتو (سرې زرغونې) ته پاملرنه وکړئ.

## د بې سرپرسته ماشومانو خوندیتوب

که تاسو د ۱۸ کالو څخه کم عمر لرئ (زېر سن) او په المان کې پرته له سرپرست یا قانوني پالندوی څخه ژوند کوئ ، نو تاسو په ځانګړی توګه محافظت ته اړتیا لرئ. د رارسیدو وروسته ، تاسو به سمدلاسه د ځوانانو د هوساینې مسؤل دفتر Jugendamt لخوا ومنل شئ.
دا پدې مانا ده چې تاسو به لومړني استوګنځی کې نه پاتې کیږی او د ځوانانو د هوساینې د دفتر Jugendamt لخوا مشوره او پاملرنه درسره کیږي او ځای په ځای کیږئ.



د ځوانانو د هوساینې مسؤل دفتر





## ښاروالیو ته توزیع (ټرانسفر)

که ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک تایید شی، تاسو به ښاروالی ته وټاکل شئ. د ZASt کارکوونکی به درته ووایي چې کومه ښاروالی به تاسو ته ځای درکړي. په زاکسن انهالت کې د پاتې کیدو په اړه شخصي غوښتنې په پام کې نه نیول کیږی. په هرصورت ، د اصلي کورنۍ غړي (لکه ماشومان ، والدین ، څوک چې زېر سنان وي نو د هغو خویندي او ورونه چې عمرونه یې له ۱۸ کلو نه پورته وي) دا امکانات لري چې د کورنۍ د غړو استوګنځی ته لاړ شي.

## د شخړې په صورت کې عمل کول

په یو محدود ځای کې ژوند کول د شخړو لامل کیدی شي. د شخړې په حالتو کې تاسو کولی شئ چې د مسئولیته عمل کولو له لیاري د شخړې په کموالي کې مرسته وکړئ.

- مهرباني وکړئ د امکان تر حده د شخړې په صورت کې ارام اووسئ.
- هڅه وکړئ چې شخړې کوونکی سلا ته په دې وهڅوئ، چې د شخړې د حل په اړه خبرې وکړئ.
- د خطرناکو حالاتو په اړه ژر تر ژره ټولنیزو کارکوونکو ته راپور ورکړئ.
- د عاجلو پېښو په وخت کې ، په ساحه کې د امنیتي خدماتو سره اړیکه ونیسئ.
- که تاسو د نژاد پرستۍ او ښۍ اړخه تاوتریخوالي یا د مېرمنو پر ضد د تاوتریخوالي قرباني ګرځېدلي یاست، نو تاسو کولی شئ د ملاتړ او لاربنود لپاره د ګرځنده قرباني مشورې د خدمت سره اړیکه ونیسئ.

## زه چیرته شکایت کولی شم که چیرې ستونزې شتون ولری؟

په ZASt کې د تاسو پاتې کیدل اساسا د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې د ترتیب شوی هستوګنې چمتو کولو لپاره دی.
که تاسو د نورو اوسیدونکو ، د استوګنځي د کارمندانو یا له نورو سازمانونو او چارواکو سره ستونزه لرئ ، مهرباني وکړئ په باور سره د خپل ځای له ټولنیزو کارمندانو سره اړیکه ونیسئ. د ZASt د اداري کارکوونکی به تاسو ته د شکایتونو د امکاناتو په اړه معلومات درکړي.
په دې مرکز کې د ګډ ژوند د ښه والي لپاره وړاندیزونه هم منل کیږي. د پناه غوښتلو او د پناه د کړنلارې په هکله د پوښتنو مسؤولیت یوازې بمف BAMF لري.
که تاسو کوم شکایت لرئ ، تاسو کولی شئ په هر وخت کې د ZAST کارمندانو سره اړیکه ونیسئ. که تاسو کوم انتقادونه یا نظرونه لرئ ، تاسو کولی شئ د A۲ دکور د ننوتلو ساحه کې د ZASt شکایت پوست باکس هم وکاروئ.

خپل نوم او د ریجیسټر شمیره پکې شامله کړئ ترڅو مسؤلین تاسو ته ځواب ووایي. تاسو کولی شئ خپل شکایت د بریښنالیک له لارې هم واستوئ:

complaint.box@lae.sachsen-anhalt.de :

یو نامعلوم شکایت هم امکان لری ، ستاسو شکایت به په هر حالت کې وڅېړل شي.
شکایتونه د پناه غوښتنې په کړنلاره باندې هیڅ اغیزه نلری.



## په لومړنی استوګنځي کې پاملرنه

### خوراک، لباس، پیسې او داسې نور

ستاسو د استوګنې په لومړنی مرکز کې به تاسو ته په قانونی ډول وړاندیز شوی مرستې او لومړنی تجهیزات درکړل شی.
د مدني مرستې په توګه به تاسو ته درکړل شي:

● د سحر ناشتا، د غرمې او ماښام ډوډۍ ● بستره او لوښي

سربیره پردې ، تاسو به د شخصی اړتیاو لپاره د ګټې اداري (ټولنیزې هوساینې دفتر Sozialamt) څخه جیبی پیسې ترلاسه کړئ. دا په نغدو پیسو کې ورکول کیږی او د قانونی عمر لرونکی شخص لپاره محاسبه کیږی. د کورنی په حالت کې ، یوازې یو کس بشپړ د پیسو مقدار ترلاسه کوی ، د کورنۍ نور غړی کمې پیسې ترلاسه کوی.
د جامو لپاره ، تاسو کولی شئ د ټولنیزې هوساینې دفتر څخه کوپون ترلاسه کړئ ، کوم چې تاسو کولی شئ په ښار کې د سودا اخیستلو لپاره وکاروئ.
په لومړې وخت کې عاجل د ضرورت کالي به تاسو د استوګنې په ځای کې د جامو په خونو کې تر لاسه کړئ.

## ټولنیز کار

د استوګنې په ټولو برخو کې مسؤل ټولنیز کارکونکی شتون لری.
دا هغه ځای دی چې تاسو کولی شئ خپلې ستونزې حل کړئ. دا کارمندان به په استوګنځي کې ستاسو د ژوند کولو په اړه ټول مهم معلومات چمتو کړی. دوی د پروسیجرونو ، نیټې او روان پرمختګونو په اړه هم معلومات چمتو کوي ، میل توزیع کوی ، تاسو سره د رسمی غوښتنلیکونو په اړه پوښتنو کې مرسته کوی او په ZASt کې ستاسو اصلی اړیکې دی.
د نورو مشورتی خدماتو په اړه په خپله معلومات ترلاسه کړئ او روانو خبرتیاوو ته پاملرنه وکړئ. مهربانی وکړئ موږ ته خبر راکړئ که تاسو غواړئ د اوږدې مودې لپاره مرکز پریږدئ.



## د روغتیا پاملرنه

د عاجلې ناروغۍ په صورت کې ، د طبی پاملرنې ځانګې (میډی کیر MediCare) ته لاړشئ. دلته به تاسو تل د اونۍ په ورځو کې طبی مسلکیان ومومئ.
سربیره پردې ، د روغتیایي خدمتونو ټیم د ماښام په وختو کې او د اونۍ په پای کې د پیرې د پوستې په ساحه کې د امبولانس سره شتون لري.
که چیرې د طبی کارمندانو په ځای کې د هغو لخوا درملنه ممکنه نه وی ، نو د میډی کیر MediCare کارمندان به د متخصص لخوا د نورو درملنې بند او بست پیل کړی. د درملنې لپاره لازم د درملنې سند کولای شئ د میډی کیر MediCare له اداري څخه وغواړئ. یوازې د پناه غوښتنې قانون سره سم اړین طبی خدمات چمتو کیږی.
مهرباني وکړئ هرکله چې تاسو میډی کیر MediCare ته ورځئ نو خپل د اوسیدونکي کارت ID هلته وړاندې کړئ.



لومړی لیدنې ته د خپل تېرو ناروغیانو په اړه کوم موجود سندونه یا درکړل شوي درملونه یا معلومات هم درسره یوشئ.
**په عاجلو حالتو کې ، په استوګنځي کې کارمندانو سره اړیکه ونیسئ ، د نورو اوسیدونکو څخه د ملاتړ غوښتنه وکړئ او د امنیت ساتونکی له لارې مسلکی مرستې غوښتنه وکړئ!**
که چیرې ځینې تجربې تاسې زوروي ، خوب ته مو نه پرېږدي یا سم خوب نشئ کولای یا ستاسو بدن په نا اشنا ډول عکس العمل ښیې ، نو کېدای شي چې تاسو صدمه لېدلي وي. د ټولنیزو کارکونکو په دفترونو کې به تاسو د خپلو ستونزو په اړه پوښتنلیکونه ترلاسه کړئ، کوم چې کولی شی تاسو سره د مشورې د مناسبو خدمتونو په چمتو کولو کې مرسته وکړی. مهربانی وکړئ د ټولنیز کارمندانو یا میډی کیر MediCare ټیم سره اړیکه ونیسئ. کارمندان به تاسو زموږ روانی خدماتو ته ور واستوي.
که تاسو دمخه د موجوده شرایطو او / یا درملنې په اړه اسناد لرئ ، نو دا له ځان سره خپل لومړنی مشورې ته راوړئ. که چیرې د روانی درملنې درملنه اړینه وی ، روانی خدمت به تاسو د مګډبرګ Magdeburg او هاله Haale (ساله Saale) ښارونو کې د ایالت په روانی ټولنیز مرکزونو کې راجستر کړی.

که تاسو د HIV (یا نورو جنسی ناروغیو) له امله مرستې ته اړتیا لرئ ، مهربانی وکړئ په هالبرسټاډ Halberstadt، مګډبرګ Magdeburg یا هالې Haale (ساله Saale) کې د ایډز له خدماتو سره اړیکه ونیسئ. دوی به تاسو ته په مستعار ډول مشوره درکړی او تاسو ته به د نورو اړیکو په اړه ځانګړی معلومات درکړی.

# په لومړني استقبال کې وړاندیزونه

## خپل خالي وخت مصرفول

د پناغوښتنې د پروسې لپاره کافي وخت ځان ته ورکړئ او استراحت وکړئ. د ځايي مشورې مرکزونو څخه د هغو د وړاندیزونو او همدارنګه اړونده معلوماتو موادو (معلوماتي پاڼو ، ویډیوګانو ، او نورو) څخه ګټه واخلئ. یوازې په دې توګه کولای شئ چې خپلو انټرویوګانو ته ځانونه چمتو کړئ.

د الماني ژبې د زده کړې لپاره ځان ته وخت ورکړئ. د تاسو په استوګنځي کې عموما د الماني ژبې د زده کړې امکانات شتون لري. د موجوده وړاندیزونو څخه ګټه واخلئ یا د ټولنیزو کارمندانو څخه په خپلواکه توګه د زده کړې د امکاناتو په اړه معلومات ومومئ.

مهرباني وکړئ د لومړني لارښوونې وړاندیزونه هم په پام کې ونیسئ ، د بېلګې په توګه د کوالو لپاره په خو ژبو کې د لارښودني کورس. دا هم امکان لري چې د لومړني استوګنځی نه بهر (د بېلګې په توګه د ولسوالیو په ابتدایی ښوونځیو کې) د جرمنی ژبې د زده کړې په کورسونو کې ګډون وکړئ.



په دې توګه کولای شئ چې د جرمنی ژبه زده کړئ او یا په جرمني کې له ورځني ژوند سره اشنا شئ.

پاملرنه: مهرباني وکړئ مخکې له مخکې وپوښتئ چې ایا دا کورسونه د فیس تابع دي که نه.

ستاسو وضعیت د ډیری سختیو لخوا په نښه شوی ، حتی ستاسو د ماشومانو لپاره په وضعیت تل اسانه نه وي. خپلو ماشومانو ته امکانات ورکړئ چې په ګډه لوبې وکړی. په ZASt کې د تاسو د ماشومانو تفریحی فعالیتونو لپاره وړاندیزونه شتون لری ، د بېلګې په توګه د مختلف فعالیتونو سره د ماشوم محافظت خونه او همدارنګه د کریټاس Caritas د زده کړې ورکشاپ. خپل ماشومان وهڅوئ چې دې ځایونو ته لاړ شي.

**مهرباني وکړئ په یاد ولرئ:** د مور او پلار یا سرپرست په توګه ، تاسو عموما د خپلو ماشومانو د هوساینې او کړنو مسؤل یاست. دا پدې مانا ده چې تاسو باید تل پوه شئ چې ستاسو ماشوم د هرکلی مرکز کې چیرته دی. د امکان تر حده پورې ، خپله د خپلو ماشومانو څارنه وکړئ یا نورو ساتونکو ته خبر ورکړئ چې څه وړ وکولای شي چې (د ضرورت په وخت کې) له تاسو سره اړیکې ونیسي. ستاسو ماشوم باید تل پوه وي چې تاسو چیرته یاست.



د کار فرصتونو یا ټولنې خدمت کې برخه واخلئ (ژباړنه ، د مناسبتونو په تجلیلولو کې مرسته کول ، د صفایی خدمتونه ، ترمیم او نور ډیر څه). پدې توګه ، تاسو کولی شئ د خپل چاپېریال په تشکیلولو کې مرسته وکړئ او یوڅه جیبي پیسې هم تر لاسه کړئ.

په هره برخه کې ګډون وکړئ، له نورو سره خبرې وکړئ، رغنده انتقادونه څرګند کړئ!
له خپل ټولنیز کارکوونکی څخه د همکارۍ د امکاناتو په اړه وپوښتئ (د بېلګې په توګه د پخلنځی کمېټه).

## هڅه وکړئ چې ستاسو وړتیاوې وټاکل شي

د تاسو په اولنې استوګنځی کې به لا د کار فدرالی اداره Bundesagentur für Arbeit ستاسو د وړتیاوو د ټاکلو هڅه وکړي. له تاسو څخه به ستاسو د تعلیمی او مسلکی وړتیاو په اړه پوښتنې وشي او دا چې تاسو کومې کاری تجربې لرئ. که چیرې دا د کار د بازار لپاره اړینې وی ، نو له تاسو سره به په ګړندۍ توګه د کار د بازار مشورې وشي او د تاسو د وړتیاوو په رسمي توګه پېژندلو مشورې به سر ته ورسېږي. دا هم امکان لری چې تاسو د خپلو مسلکي وړتیاوو پر اساس داسي ښاروالۍ ته ټرانسفر شئ، چې دغو وړتیاوو ته اړتیا لري.

د ډیرو مسلکونو لپاره ، مهارتونه او سندونه اړین دی.
په ځانګړی توګه که تاسو دمخه مسلکی زده کړې یا پوهنتون بشپړه کړې وی ، نو تاسو باید په LAE کې د وړتیاوو په رسمي توګه پېژندنه وکاروئ.




مسلکي زدکړي

# د پناغوښتنې پروسه

## د پناه غوښتنې اساسي حق

د پناه غوښتنې حق یو اساسي نړیوال حق دی. د المان په فدرالي جمهوریت کې دا قانون د اساسي قانون یوه برخه ده (د ۱۶ الف مادې له مخې: „له سیاسي پلوه ځپل شوي کسان د پناغوښتنې حق لري.“). د پناه غوښتنې حق هغه وخت ترلاسه کېدای شي چې ثابته کړئ چې په خپل هېواد کې مو له سیاسي تعقیب څخه تېښته کړې وی او یا د نورو دلایلو له کبله مو هلته ژوند له خطر سره مخامخ شوی وی.
سربېره پردې ، د کډوالو په اړه د جینیوا کنوانسیون غړیتوب سره ، المان ژمنه کړې چې هغه کډوال منې چې نړیوال محافظت ته اړتیا ولري.
د پناغوښتنې په پروسه کې، ستاسو د خوندیتوب انفرادي دلیلونه څېړل کېږي.



د پناه غوښتنې حق

## د مهاجرت او کډوالو فدرالي اداره (BAMF)

په المان کې د پناه غوښتنه یوازې د مهاجرت او کډوالو فدرالي ادارې ته سپارل کېدی شي.
بامف BAMF محکمه نه ده، بلکې یوه اداره ده.
دا ددې څېړنه کوي چې ایا تاسو په خپل اصلي هیواد کې ځورول شوي یاست او ایا تاسو به هلته د بیرته ستنیدو په صورت کې د تعقیب سره مخامخ شئ. که تاسو تعقیب شوی یاست ، نو دا به هم وڅېړل شي چې ایا تاسو په خپل اصلي هیواد کې دولتي محافظت ترلاسه کړی. او دا به هم وڅېړل شي چې ایا تاسو د خپل اصلي هیواد په بل ځای کې محافظت موندلی شئ.
دا څېړنه یوازې ستاسو د شخصي پناه غوښتنې غوښتنلیک پراساس امکان لري.
دا غوښتنلیک ژر تر ژره د مهاجرت او کډوالو فدرالي ادارې ته وسپارئ. فدرالي اداره به تاسې ته خبر درکړي چې کله او چېرته غوښتنلیک وړاندې کولای شئ. فدرالي اداره ستاسو لپاره دوسیه جوړوي او ستاسې شخصي معلومات ثبتوی. که تاسو ۱۴ کلن عمر ته رسیدلي یاست ، نو یو عکس به واخیستل شي او ستاسو د ګوتو نښې به هم واخیستل شي.






د غوښتنلیک پروسې په جریان کې به تاسو د پناه غوښتنې د کړنلارې او د خپلو حقونو او مسؤلیتونو په اړه خبر شئ. دا معلومات به تاسو ته په لیکلي ډول ستاسو په ژبه کې درکړل شي. بمف BAMF به تاسو ته ستاسې له شخصي تصمیم نیونکي سره د لیدنې لپاره د ژبې منځګړی / ژباړونکي ته بلنه ورکړي. دا ستاسو حق دی چې په خپله مورنۍ ژبه کې انټرویو درنه واخیستل شي. تاسو کولی شئ خپل وکیل دې لیدنې ته درسره راولئ. که تاسو مخکې له مخکې مونږ ته خبر راکړئ ، نو تاسو کولی شئ هغه څوک هم له ځان سره راولئ چې تاسو یې باور لرئ.

## د پناه غوښتنې له غوښتنلیک سره د څه شي غوښتنه کېږي؟

که تاسو د پناه غوښتنلیک وړاندې کړئ، نو په المان کې د پناه د تر لاسه کولو غوښتنه کوئ. له هرڅه دمخه ، د بمف BAMF اداره به دا وڅېړي چې ایا المان ستاسو د غوښتنلیک مسؤل دی.
آیا

- تاسو تر دې مخکې  په بل اروپایي هېواد کې د پناه غوښتنه کړې ده.
- تاسو ته په بل اروپایي هیواد کې پناه درکړل شوې ده.
- ستاسو د پناه غوښتنه په بل اروپایي هیواد کې رد شوې

که

- تاسو په تیرو ۶ میاشتو کې د بل اروپایي هیواد څخه د شینګین ویزه ترلاسه کړې وی ، نو

المان په رسمي ډول ستاسو لپاره مسؤل ندی. پدې حالت کې ، تاسو به د فدرالي دفتر څخه یو لیک ترلاسه کړئ. په داسې یو لیک کې به تاسو  څخه غوښتنه وکړل شي چې هغه هیواد ته سفر وکړئ چې ستاسو لپاره مسؤل دی.

## د استوګنې اسناد

تاسو به د ځاست ZASt کارمندانو څخه خپل „د رارسیدو ثبوت“ ترلاسه کړئ ، که چېرې لدې چې دمخه تاسو ته بل چیرې سپارل شوی نه وی. د رارسېدلو ثبوت به ستاسو شخصي معلومات او یو عکس ولري. د دې سندونو په صادرولو سره به تاسو د پناه غوښتونکي په توګه ثبت شئ. په دې اساس به بمف BAMF تاسو ته بلنه درکړي چې خپل شخصي غوښتنلیک وړاندې کړئ. څرنګ چې تاسو بمف  BAMF ته د پناه غوښتنې غوښتنلیک وسپارئ  ستاسو د رارسېدلو د ثبوت پاڼه به د استوګنې په جواز باندې تبدیل شي. تاسو باید دا سند هر وخت له ځان سره ولرئ او د هویت د کنټرولو  په وخت کې یې پولیسو ته ور ښکاره کړئ. په دغه  کارت

کي به د تاسو د استوګني سیمه ټاکل شوي وي. څرنګ چې ستاسو ټرانسفري د ساکسن۔انهالت Sachsen-Anhalt یوې ښاروالۍ ته ترسره شی ، تاسو مکلف یاست چې بمف BAMF ته د خپل نوي اډرس خبر ورکړئ.

## د پناه غوښتنې د کړنالرې مشورې (AVB) او د انټرویو لپاره چمتووالی

د هرکلی په مرکز کې د پناغوښتنې د پروسې لپاره مشورتی مرکزونه هم شته.
د زاکسن۔انهالت Sachsen-Anhalt په ایالت کې د انفرادی مشورې په بڼه کولای شئ په هالبرسټاډت Halberstadt کې د بمف BAMF د پناغوښتنې له کړنلارې او د کریتاس Caritas له مشورتی خدمتونو څخه ګټه واخلئ. په مشورتی مرکزونو کې کولای شئ د پناغوښتنې د پروسې په ټولو پړاوونو کې د خپلو حقونو او مکلفیتونو په اړه مالومات ترلاسه کړئ.
تاسې به په خپله خوښه د بېرته ستنېدو او د مهاجرت د مخي ته بوولو په اړه هم شخصی مشوره ترلاسه کړئ. په مشورتی مرکزونو کې تاسو دا فرصت هم لرئ چې هر هغه ځانګړی اړتیاوې په پام کې ونیسئ چې باید په بمف BAMF کې د انټرویو پر مهال په پام کې ونیول شي.
دا مشورې وړیا دی ، مستعاري او د اعتقاد او عقیدې څخه خپلواکي دی.

## انټرویو

د مرکې پروسیجر ، چې اکثر وخته د „انټرویو“ په نوم پیژندل کیږی ، د لومړی ځل غوښتونکو لپاره ترټولو مهم فرصت دی چې د تیښتې دلیلونه تشریح کړی. د دې مرکې پر بنسټ، د مهاجرت او کډوالو فدرالی اداره پریکړه کوی چې ایا په المان کې به پناه درکړل شي که نه.

**یادونه:** انټرویو ستاسو لپاره لومړی او یوازینی فرصت دی چې په بشپړ ډول د پناه غوښتنې لپاره خپل شخصی دلیلونه تشریح کړئ!
د دې خبرو اترو اهمیت په پام کې ونیسئ او د انټرویو لپاره ښه چمتو اوسئ.






Termin ټاکلی وخت
INFO معلومات
Antrag auf Asyl د پناه د لاس ته راوړلو لپاره غوښتنلیک

د بمف BAMF په امکاناتو پورې اړه لری ، انټرویو به د غوښتنلیک د سپارلو وروسته یو څه وخت وروسته ترسره شي. بمف BAMF تاسو ته د پناه غوښتلو د قانون د ۲۵ مادې سره سم د انټرویو لپاره په لیکلی ډول بلنه درکوی. د ژبې منځګړی / ژباړونکی به شتون ولری. فدرالی ادارې ته په مناسب وخت کې خبر ورکړئ چې انټرویو په کومه ژبه ورکول غواړئ ، ستاسو څخه په مورنۍ ژبه انټرویو اخیستل د پناه غوښتونکی په توګه ستاسو حق دی. ځانګړی غوښتنې ، د بیلګې په توګه یوه ښځه د ژبې منځګړی / ژباړونکي په توګه ، باید په مناسب وخت کې ثبت شی. د تعقیب د ځانګړو دلایلو لپاره (د جنسیت ځانګړی تعقیب ، * LGBTI یا د شکنجې قربانیان) په بامف BAMF کې ځانګړی روزل شوی استازی شتون لری. مهربانی وکړئ په مناسب وخت کې مونږ ته خبر راکړئ ، د بیلګې په توګه د پناه غوښتنې د پروسیجر د مشورې په څانګه کې یا ټولنیزو کارمندانو ته ، که تاسو د د انټرویو پرمهال ځانګړی ملاتړ ته اړتیا لرئ.
دا انټرویو شاوخوا ۲۵ پوښتنې لری. له تاسو څخه به وغوښتل شی چې د خپل اصلیت ، د تیښتې لاملونو او ستاسو د سفر لارې په اړه معلومات چمتو کړئ. د دې لپاره خپل ځان ته وخت ورکړئ. ټول معلومات په بشپړ او ریښتینی ډول چمتو کړئ. که امکان ولری ، شواهد اسناد یا عکسونه چمتو کړئ. ستاسو د معلوماتو د ثبتولو په جریان کې چمتو شوی معلومات به د پریکړې کوونکي له خوا وڅېړل شي. تاسو حق لرئ چې خپلي خبري بیرته راستانه کړئ.
په ژباړل شوی پروتوکول کې د سموالی لپاره د انټرویو ټولي خبري کنترول کړئ او بیا یې د لاسلیک له لارې تایید کړئ.

**پاملرنه:** ډاډ ترلاسه کړئ چې د کورنۍ ټولو غړو نومونه سم لیکل شوي دي!




## د فدرالي اداري پرېکړه

بمف BAMF به تاسې ته د پناغوښتنې په اړه په ليکلی ډول ځواب درکړی (پرېکړه). پريکړه منطقی ده او د استيناف د څرنګوالي په اړه لارښوونو سره درکړل کيږی. دا لارښوونې په ګوته کوی چې ايا او څنګه پريکړه بياکتنه او استيناف کيدی شی.

بمف BAMF به تاسې ته د پناغوښتنې په اړه په ليکلی ډول ځواب درکړی (پرېکړه). پريکړه منطقی ده او د استيناف د څرنګوالي په اړه لارښوونو سره درکړل کيږی. دا لارښوونې په ګوته کوی چې ايا او څنګه پريکړه بياکتنه او استيناف کيدی شی.

يوه مثبته پريکړه د استوګنې جواز رامينځته کوی. د استوګني د جواز سره سم د استوګنې يا د اقامت حق تر لاسه کوئ ، کوم چې تاسو کولی شئ د مهاجرت له دفتر څخه يې ترلاسه کړئ. د دليل پورې اړه لری ، تاسو به په پيل کې د يو کال تر دريو کلونو پورې د پاتې کيدو اجازه ترلاسه کړئ.

د منفی پريکړې په صورت کې ، تاسو به د هيواد پريښودو غوښتنه ترلاسه کړئ او د ډيپورټ ګواښ به تاسو مجبور کړی چې هيواد پريږدئ.

که تاسو په وخت سره نه ووځئ ، نو تاسو به ډيپورټ شئ او بايد لګښتونه په خپله برداشت کړئ. که تاسو د خپل وتلو په اړه کومه پوښتنه لرئ ، نو تاسو به د خپل استوګنځي د بيرته ستنيدو مشورې څانګي څخه ملاتړ ترلاسه کړئ. که ډيپورټ ممکن نه وی، د بهرنيانو د ثبت اداره Ausländerbehörde ښايی په لنډمهاله توګه د ډيپورټ ځنډول اعلان کړی. زغمنه Duldung د لنډمهاله پيژندنې سند دی چې تاسو د راجستر شوی شخص په توګه پيژنی. دا د اقامت جواز نه دی.

د هيواد پريښودو مکلفيت به لاهم په خپل ځای پاتې وی.

## د وکيل ګډون

تاسي کولای شئ په محکمه کې د فدرالی اداري د پرېکړې پر خلاف اعتراض وکړئ. غوښتونکی معمولا د استيناف د څرنګوالي په اړه لارښوونو کې د اعتراض کولو د لارو او د مهلت له نېټو څخه خبرېږي. مهرباني وکړئ په ياد ولرئ چې تاسو بايد ژر تر ژره عکس العمل وښاياست که تاسو غواړئ اعتراض وکړئ.

حتی که تاسو غواړئ وکيل ته زنګ ووهئ ، تاسو بايد په لومړی مرحله کې اقدام وکړئ. په زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt کې، د پناغوښتنې په پروسه کې د قانونی پناه اخيستلو په اړه



خپلواکه مشوره د کريتاس Caritas د پناه غوښتنې د کړنلاري د مشورې د څانګي او د کډوالو د شورا لخوا وړاندی کيږی.

## د تعقيبی غوښتنليک يا تاييد غوښتنليک وړاندې کول

که په جرمنی کې مو د پناغوښتنې په لومړۍ پروسه کې منفی پرېکړه ترلاسه کړې وی، نو کولای شئ تعقيبی غوښتنليک وړاندې کړئ. تعقيبی غوښتنليک بايد په شخصی ډول بمف BAMF ته وسپارل شی ، ځکه چې بمف دمخه ستاسو د لومړۍ پناه غوښتلو د غوښتنليک په اړه پريکړه کړې. د پناه غوښتنې بله کړنلاره (تعقيبی غوښتنليک) به يوازې هغه وخت ترسره شی چې ستاسو په ګټه حقيقی يا قانونی حالت بدل شوی وی يا که نوی شواهد شتون ولری. تعقيبي غوښتنليک بيا بايد په دريو مياشتو کې وړاندي شي.

که ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنليک په محفوظ دريم هيواد همدارنګه په ناروې يا سويس کې رد شوی وی او المان ستاسو د پروسې مسؤليت ولري ، نو دې ته دوهم غوښتنليک ويل کيږی. دا پروسه په هغه وخت کي ممکنه ده که تاسو په شخصی ډول خپل اصلی هيواد ته د ستنېدو له لارې له خطر سره مخامخ ياست يا که ستاسو په اصلی هيواد کې وضعيت نور هم خراب شوی وی. که بمف BAMF ستاسې ثبوت ومنی، نو بيا به د پناغوښتنې ټوله کړنلاره تکرار کړئ.

## په خپله خوښه بېرته ستنېدا

که تاسو مکلف شوئ چې هيواد پريږدئ يا که تاسو په خپله غواړئ بيرته خپل هيواد ته ستون شئ ، نو په خپله خوښه بيرته ستنيدنه محفوظه او د شخړي نه خلاصه ده تر دې چې په اجباری توګه بېرته ولېږل شئ.

د REAG/GARP پروګرام له لارې، د کډوالو نړيوال سازمان (IOM) په خپله خوښه بيرته ستنيدو نکو سره مرسته کوي، د بېلګي په توګه د سفر مرستې وړاندې کوی. د بېرته ستنېدو لپاره د ملاتړلو مرستي وړاندې کوی او ستاسو اصلی هيواد ته په بيرته راستنيدو کي يا دريم هيواد ته ستاسو د مهاجرت په جريان کې ستاسو ملاتړ کوی.

د زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt ايالت تاسې ته د بېرته ستنېدو مشورې درکوی. سربيره پردې ، په انفرادی قضيو کې ، ستاسو په خپله خوښه وتل ستاسو د دولت د برنامو له لارې ستاسو سره مالی ملاتړ کيدی شی. احتمالی ترغيبونه کيدی شی: د سفر مرستې او د سفر لګښتونه ، د پاسپورټ تر لاس راوړله ، طبی ملاتړ ، د ژوند لګښتونه ، د سوداګرۍ د پيل لګښتونه او نور ډير څه.

د سيمه ييزو ټولنيزو کارکوونکو له لاري نور مالومات ترلاسه کړئ، هغه به تاسو ته د بېرته

ستنېدو مشورتی خدمتونو اړیکي درکړي او یا به د مګډبرګMagdeburg د ښار د ماموریت ایی وی سره اړیکي ونیسئ. مګډبرګ Magdeburger Stadtmission e. V ښار د ماموریت په ایی وی کې د زاکسن انهالت د بېرته ستنېدو په مرکز کې په لاندې بریښنالیک پته اړیکه ونیسئ:
rueckkehrberatung@magdeburgerstadtmission.de
دا خلک به ستاسو د غوښتنلیک کړنلارو او ستاسو د وتلو په تنظیم کې ستاسو ملاتړ وکړی. په خپله خوښه د بېرته ستنېدو لپاره د مالی یا نورو ملاتړو قانونی حق نشته.

## د کورنۍ راوستنه

د یو منل شوی کډوال په توګه یا د پناه غوښتنې مستحق کس په توګه، تاسو حق لرئ چې خپله میرمن او کوچنی بې واده ماشومان په اسانۍ سره راوغواړئ. د دې کار د کولو لپاره ، تاسو د فدرالی بهرنیو چارو وزارت ته د امتیاز لرونکی کورنۍ یوځای کیدو لپاره غوښتنلیک وړاندې کړئ. دا په دې مانا ده چې ستاسې اصله کورنۍ اجازه لری چې زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt ته راشي او د استوګنې اجازه ترلاسه کړی. مهربانی وکړئ په یاد ولرئ چې دا غوښتنلیک باید د کډوال یا پناه غوښتونکی په توګه د منلو وروسته تر ۳ میاشتو پورې وسپارل شی.
د موقتي استوګني اخیستونکو لپاره ، د هغو د میرمنو او کوچنی بې واده ماشومانو او همدارنګه د کوچنی ماشومانو د مور او پلار راغوښتنه او د کورنۍ یوځای کیدنه د چارواکو په اختیار کې دی.
د کورنۍ یوځای کیدل د ویزې پروسیجر په چوکاټ کې ترسره کیږی ، د بیلګې په توګه غوښتنلیک باید اړونده ډیپلوماتیک ماموریت (سفارت یا عمومی قونسلګری) ته وسپارل شی.
په بهر کې ډیپلوماتیک ماموریت او په المان کې د کډوالۍ وړ اداره ګوری چې ایا د کورنۍ د یوځای کیدو لپاره قانونی شرطونه پوره شوي که نه. دا پدې مانا ده چې هره میاشت تر ۱۰۰۰ کسانو پوري جې د موقتي استوګني حق لري کولای شي چې د خپلو کورنۍ ګانو غړي جرمني ته را اغواړي. ځینې معیارونه باید پوره شی چې د بشری احتیاجي حالت له امله د کورنۍ یوځای کېدل سر ته ورسیږي.
د کریتاس Caritas مشورتی مرکز له کارکوونکو سره خبرې وکړئ، هغه به تاسو ته لومړنی معلومات درکړی او د ټراسفري په وخت کي به د مشورې مرکزونو اډرسونه درکړی.
پداسې حال کې چې د پناه غوښتنې پروسې لاهم دوام لری ، دا لاهم امکان نلری چې د کورنۍ یوځای کیدو لپاره غوښتنه وکړی. په هرصورت ، د کورنۍ دغړی په توګه ، تاسو کولی شئ دمخه د المان په سفارت کې د ملاقات لپاره ټاکل شوی وخت تر لاسه کړئ. د غوښتنلیک د تصویب لپاره ، تاسو باید ثابته کړئ چې ستاسو کورنۍ کولی شی له تاسو سره یو ځای ژوند وکړی. سربیره پردې ، تاسو باید د خپل ځان او کورنۍ د خرچې ملاتړ په خپله وکړئ.



# ښاروالیو ته رسیدل ــ د ادغام وړاندیزونه



## استوګنه

له لومړنی استوګنځی وروسته ستاسې مسؤوله ښاروالۍ به ستاسې لپاره په یوه لیلیه یا اپارتمان کې د اوسېدو ځای درکړي. هغه کورنۍ چې ماشومان لری معمولا په چټکۍ سره اپارتمان ترلاسه کوی. مجردان کډوالان یا هغه کډوال چې یوازې سفر کړی وي کولی شی په اپارتمان کې د کوچنۍ ډلې په توګه یا د ګډې استوګنې په توګه ځای په ځای شی.

## اړیکلوری

په ښاروالۍ کې ستاسې لپاره مسؤول کارکوونکی هغه ټولنیز کارکوونکی دی چې ستاسې پاملرنه په لیلیه یا اپارتمان کې کوی. د ځایی ښه راغلاست نوښتونه ، رضاکارانه لارښودنه یا سرپرستان به تاسو سره ستاسو په لاره موندلو کې مرسته وکړی. د مهاجرو لپاره مشورتی مرکزونه په معمول ډول د کاری ساعتونو پر مهال مشورې ورکوی.
دلته به تاسو د پناه غوښتنې پروسیجر ، د کډوالۍ په پوښتنو کي ، ټولنیزو ګټو ، په ژبه زده کولو کي ملاتړ او د ورځنی ژوند نورو اړتیاو په اړه وړ ملاتړ ترلاسه کړئ. دلته محلی ټولنې او انجمنونه هم شتون لری. دوی معلومات ، راشه درشه ، کلتور ، سپورت او د ژبې کورسونه وړاندې کوی.
په لویو ښارونو کې، مهاجر د مهاجرو په سازمانونو کې یوځای شوی دی. ډیری یې لاهم په سمه توګه په دې پوهیږی چې د کډوالو لپاره نوی ژوند پیل کول څومره ستونزمن ده، نو دوی له کډوالو سره په ژباړنه او لارښوونه کي مرسته کوي. د مهاجرو د سازمانونو ملی شبکې (LAMSA) سره اړیکه ونیسئ. هلته راسا معلومات موندلای شئ او پرې خبرېدلای شئ چې کوم د مهاجرو سازمانونه د تاسو په سیمه کې شتون لري.

## د الماني زدکړه

د جرمنۍ ژبې زر تر زره زده کول له تاسې سره مرسته کوی چې په جرمنی کې په ټولنیز ژوند کې برخه واخلئ. کډوال، په هغو کي بیا هغه کډوال چې د حفاظت مستحقتوب یې تر لاسه کړای وي(قبولي) حق لری چې د فدرالی حکومت د ادغام په کورسونو کې ونډه واخلی.

په دې کورسونو کې ۶۰۰ ساعته د ژبې کورس او ۳۰۰ ساعته لارښوونه شامله ده. د لارښوونې په کورس کې، قواعد، حقونه او مکلفیتونه او همدارنګه په المان کې د ژوند په اړه عملی پوهه تدریس کیږی.

د سوریې، اریتریا یا سومالیا پناه غوښتونکی  کولی شی د پناه غوښتنې پروسیجر په جریان کې لا د ادغام کورس کې برخه واخلی ( د معلوماتو بشپړوالی تر ۳/۲۰۲۱  پوري په نظر کي نیول شوای ده).

د دې کولو لپاره ، تاسو باید بمف BAMF  ته غوښتنلیک وړاندې کړئ. لطفا په دې اړه له خپلو ټولنیز کارکوونکو څخه پوښتنه وکړئ.

ډیر ابتدایی وړاندیزونه هم شتون لری: لومړنی کورسونه ، د ژبي قهوه خانه ، د ژبې لارښودونکي یا د اتحادیې رضاکارانه وړاندیزونه. همدا شان کولای شئ دا هم معلومه کړئ چې د ژبې د ملاتړ کوم امکانات ستاسو په سیمه کي شتون لري، د خپل ټولنیز کارکوونکو له لاري په دې باندي هم پوهېدلای شئ. د ژبې کورسونه هم د کار لټولو او ستاسو له پوه سره تړاو لری. له همدې امله تاسو باید د کار مرکز یا د کار اداري سره هم اړیکه ونیسئ.

## د مسلکی پوهی پیژندنه

په المان کې، په کوم مسلک کي کارکول معمولا پیژندل شوی مسلکی سند ته اړتیا لری. که تاسو مسلکی زده کړې یا د پوهنتون سند لرئ ، ډاډ ترلاسه کړئ چې دا وړتیاوې ثبت شي.

که تاسو لا تر اوسه په لومړنی استوګنځي کي دا امکانات نه وي تر لاسه کړي چې خپل صلاحیتونه مو وټاکل شي، نو سمدلاسه له ټولنیزو کارکوونکو یا مشاورینو سره اړیکه ونیسئ.

دوی به تاسې ته د کار د فدرالی اداري د صلاحیت د ارزونې په اړه مالومات درکړی. د ښوونځیو د زده کړې، حرفوي زدکړي، کسبي او د پوهنتون  زدکړي د ارزولو لپاره ګڼژبی پوښتنلیکونه کارول کیږی.

یوځل چې ستاسو د وړتیا پروفایل ثبت شی ، تاسو باید د خپلو سندو د تصدیقولو د امکاناتو په اړه مشوره وغواړئ. د دې کولو لپاره ، مهرباني وکړئ د IQ شبکې اړونده مشورتی مرکزونو سره اړیکه ونیسئ. مشاورین به ستاسو سره ستاسو د مدرکو به تصدیقولو کي د تاسو په سخته لاره کي ګام په ګام مرسته وکړي.






ICH – DU – WIR   زه – ته – مونږ

! مهرباني وکړئ په یاد ولرئ: په المان کې ، د ډیرو مسلکونو تمرین کولو لپاره وړتیا او مسلکی مهارتونو ته اړتیا ده. تاسو کولی شئ دا د سندونو د تصدیقولو د مشورې په ځانګه  کې ثبت کړئ. د ځینو مسلکونو لپاره، په المان کې په هغه مسلک کې د کار کولو اجازه ترلاسه کولو لپاره د سندونو تصدیقول یو شرط دی.

## په کار کې ادغام

د استوګنې د اجازې لرونکی مهاجر په توګه، تاسو د کار نا محدود جواز لرئ. که ستاسو پروسه لاهم دوام لری یا تاسو زغم Duldung لرئ ، تاسو کولی شيء ژر تر ژره د استوګنې له دریو میاشتو وروسته د کار جواز ترلاسه کړئ. دا کار د بهرنیانو د تنظیم په اداره Ausländerbehörde کې کولای شيء. د کار فدرالی اداره څېړنه ترسره کوی او یوازې هغه وخت خپل موافقت څرګندوي چې د کار ځای د کار د قانون معیارونه پوره کړی.

د ساکسن انهالت Sachsen-Anhalt ایالت به ستاسو په کار کې د وړتیا معلوموملو او د ادغام ګړندۍ هڅې وکړي. ډیر د کار ځانګې د کار د موندلو په مشورو کې په ګډه کار کوي. د مهاجرت مشاورینو سربیره ، تاسو کولی شيء د فدرالی کار ادارې (BA)، د کار مرکزونو Jobcenter ، د صنایعو ځانګو Handwerkskammer او د صنعت او سوداګرۍ ځانګې Industrie- und Handelsmakkern څخه مشوره ترلاسه کړئ.

ډیری شبکې مشورې هم وړاندې کوی ، د بیلګې په توګه د دولت نوښت „Fachkraft im Fokus“ ، د جاببروکه پلوس Jobbrücke PLUS پروژه ، د IQ شبکه Netzwerk IQ ، او د مهاجرو سازمانونو دولتی شبکه (LAMSA e.V.). له خپل مسؤول څارونکی یا مشاور سره په دې اړه خبرې وکړئ چې د کار په بازار کې د ادغام امکانات څه ډول دی.

!

پاملرنه: د ژبې د پوهې نشتوالی یا ناکافیتوب اکثرا د کار بازار په ادغام کې ترټولو لوی خنډ دی. له همدې امله ، د امکان تر حده ګړندی او په کوښښ سره د المانی ژبې زده کولو له ټولو فرصتونو څخه ګټه واخلئ.

### بلیکپونکت Blickpunkt د مهاجرو میرمنو ځانګه ـ په زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt کې د مهاجرو میرمنو د کار بازار کې د ادغام لپاره د اختصاص او خدماتو مرکز

دا اختصاص او د خدماتو مرکز په زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt کې کډوالو او مهاجرو ښځو ته د کار بازار ته د ننوتلو لاره اسانه کوی. دا د مشورو او ملاتړونو وړاندیزونه کوی ، د بیلګې په توګه د مسلکي زدکړي یا د کار په لټولو کې ، د وړتیاو / تخصص لپاره راجستر کولو کې ، د مناسب ژبې وړاندیزونو او ماشومانو لپاره د پاملرونکیو په لټون کي ، د استوګنې په ستونزو کي یا د کور په لټولو کي.



دا لاندي د تخصیص په (کورسونو کي) کولای شئ چې ونډه واخلئ:

- د الماني زده کړه
- ځواکمنتیا
- مسلکي چمتووالی
- د کار بازار ته د ننوتلو لپاره ملاتړ او بدرګه

## د ماشومانو پالنه

په المان کې هر ماشوم حق لری چې د ورځې پاملرنې په مرکز (کیتا) کې ځای ولری ترڅو د ښوونې او روزنې پاملرنې او تعلیمی خدماتو او همدارنګه په ټولنه کې د ښه مرستې وړتیا له لارې خپل عمر سره مناسب ، روانی / احساساتی پرمختګ ته وده ورکړی. دا ستاسو د ماشوم لپاره هم پلی کیږی څرنګ چې تاسي یوې ولسوالۍ یا خپلواک ښار ته ټرانسفر شئ. د ورځې پاملرنې مرکز (کیتا) کې ګډون کول د المانی ژبې زده کړې ته وده ورکوی او د زده کړې او لوبې کولو له لارې له نورو ماشومانو سره اړیکو ته هم وده ورکوي. ستاسې ټولنیز کارکوونکی به له تاسې سره مرسته وکړی چې د ورځې پالنې مرکز ته د داخلېدو غوښتنه وکړی.

## د ماشومانو لپاره د ښوونځي زدکړي

په جرمنی کې ټول ماشومان د زده کړو حق لری. نجونې او هلکان د قانون له مخې فرض لري چې په شپږ کلنۍ کې ښوونځی ته لاړ شی. له همدې امله ، ستاسو د ماشومانو لپاره هم د ښوونځی ته د تګ فرض شتون لري. د زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt په ډیرو ښارونو کې داسې ښوونځی شته چې د ژبې د ملاتړ ځانګړی ټولګی لری.

په دې ښوونځیو کې ماشومان کولای شی لومړی المانی ژبه زده کړی او بیا له نورو ماشومانو سره یوځای درسونه تعقیب کړی. د جرمنی ژبې په زده کړه کې له خپل ماشوم سره مرسته وکړئ.

ستاسې ټولنیز کارکوونکی به تاسې ته د تاسو سیمې ته د نږدې وړاندیزونو په اړه معلومات درکړی او د غوښتنلیک په وړاندې کولو کې به درسره مرسته وکړی.

## د ښوونځی زدکړي د ځوان بالغ کیدو تر عمره

په المان کې ماشومان لومړی لومړنی/ابتدائیه ښوونځی ته ځی او بیا له ثانوی ښوونځی څخه فارغیږی. د فارغېدو مختلف ډولونه شتون لری. د ښوونځی بری لیک د ماشوم د نورو زده کړو لپاره لومړنی شرط دی. د اصولو له مخې، مسلکی زده کړې یا د پوهنتون زده کړې د یو بری لیک سره پیل کیدی شی. د بري لیک پرته به ډیره سخته وي چې یوه ښه دنده ومومئ.

## مسلکي زدکړې او پوهنتون

که تاسو د ښوونځی د فارغیت بری لیک لرئ ، د مشورې غوښتنه وکړئ چې د زدکړې کوم فرصتونه شتون لری. په جرمنی کې د ډېرو مسلکونو لپاره زدکړې د „دوه پلوییزه مسلکي زدکړو„ په توګه ترسره کېدای شي. دا زده کړې معمولا درې کاله دوام کوی. پدې کې په شرکت کې عملی روزنه او په مسلکی ښوونځی کې د نظري پوهې تر لاس راوړله شامله ده. تاسو کولی شئ د کار په مرکزونو کې مشوره ترلاسه کړئ یا د مهاجرو سازمانونو ملی شبکو سره اړیکه ونیسئ.
دولتی شبکې د ځوانو مهاجرو ملاتړ کوی چې د زده کړې په لټه کې دی او د مسلکي زدکړو په جریان کې یې بدرګه کوي.

تاسو کولی شيء د زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt په پوهنتونونو کې زده کړه وکړئ که تاسو پوهنتون ته د داخلې سند (کانکور Abitur) لرئ یا دمخه مو په پوهنتون کې زده کړې پیل کړی وی. پدې پورې اړه لری چې تاسو د کومې رشتې سره علاقه لرئ، له هغه سره سم کولای شئ چې د ساکسن انهالت Sachsen-Anhalt د پوهنتونونو د بهرنیانو له دفترونو سره اړیکي ونیسئ.






# د ځانګړو شرایطو لپاره مشورې او ملاتړ

## د کورنۍ د پلان د جوړولو په هکله په پوښتنو کې مرسته او له امیدوارو سره مرسته

د امیدوارو او امیدوارو د شخړو مشورتی مرکزونه د امېدوارو او د زیږېدني په شاوخوا کې د میرمنو او د جوړو ملاتړ کوی. دوی مېرمني او جوړې د امیدواري په شخړو کې هم بدرګه کوي او ملاتړ ورسره کوي.
پرته له امېدواري څخه ، میرمنې ، نارینه او جوړه کولی شی د جنسیت او کورنۍ د پلان کولو په اړه مشورې وغواړی.
په هره ولسوالۍ کې یو مشورتی مرکز شتون لری.

## د ښځو لپاره ځانګړی حفاظت

د هغو میرمنو لپاره چې یوازې یې سفر کړای وي او د دوی ماشومان چې تاوتریخوالی پرې تېرې شوي وي او ځانګړې محافظت ته اړتیا ولري ، د هغو لپاره په هاله Halle کې خاص د ګډوالو میرمنو کور شتون لری.
هغه کور کې د اوسېدا لپاره شرط د استوګنې جواز یا زغمنه Duldung دی. دلته به تاسو سره مرسته وشي چې په خپله خوښه د خپل ځان لپاره ژوند وټاکئ او جوړ یې کړئ. په دغه مهال کې به د بریدونو پر وړاندې محافظت تر لاسه کړئ، په شخصي کړکېچونو او مصیبتتو کې او د ورځني ژوند سره په مقابله کې.
اوس مهال په زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt کې د ښځو اووه مرکزونه شتون لری.
د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی مرکز یو ځای دی،
- چې د هر عمر مېرمنو ته ښه راغلاست وایی، له انجینو څخه نیولي تر زړو مېرمنو پورې
- داسې ځای ده چې مهاجرې ښځې ادغام کولای شي.
- د هغو ښځو لپاره چې د زدکړې او د معلوماتو د لاسه راوړلو غوښتنه لري.
- چېرته چې ورزش او نڅا ته وده ورکول کېږي.
- د هغو مېرمنو لپاره چې له خاوند څخه بېلي شوي وي یا طلاق شوي وي.
- کلتور او خلاقیت پکې وده کوي

په خپله خپل ځان ته قناعت ورکړئ چې دغه ځای څه وړ ده، یا د انټرنیټ له لارې یا هم په دغه ځای کې!

## د کورنی ژوند په تاوتریخوالي کې ملاتړ

کله چې کورنۍ ښاروالیو ته ټرانسفر شی ، میرمنې باید پوه شی چې په هره سیمه کې د میرمنو لپاره د مشورې مرکزونه او د هغو د سرپناه لپاره استوګنځایونه شتون لری ، په بیله بیا د کورنی تاوتریخوالي د منځګړتوب مرکزونه شتون لري چې دوی ورته مراجعه کولی شی.

## د ژینوفوبیک/د پردو ددښمنی د بریدونو په صورت کې مرسته

که تاسو د نژادپرستانو د تاوتریخوالي قرباني ګرځېدلای یاست یا د ښی اړخه افراطي تاوتریخوالي له امله ګواښ احساس کوئ ، ژر تر ژره د قربانیانو مشورې مرکز سره اړیکه ونیسئ. کارمندان ستاسو لپاره شتون لری او ستاسو ملاتړ کوي. دوی به تاسو پولیسو ، ډاکټر یا وکیل ته بدرګه کړي.
په هر حالت کې ، په یاد ولرئ: تاسو حق لرئ چې له مجرمینو سره حساب وشي.

## د جنسی هویت له امله ستونزې

په المان کې، تاسو حق لرئ چې په ازاده توګه د خپل بدن په اړه پریکړه وکړئ.
که تاسو د خپل جنسی هویت له امله تبعیض شوی یاست، تاسو کولی شئ د ځایی ټولنیزو کارمندانو سره اړیکه ونیسئ. په دې اړه په هاله Haale کې د مشورتی مرکزونو (BBZ) „lebensart“ e.V. او په مګډبرګ Madeburg ښار د CSD Magdeburg e.V. یا د همجنسبازانو او همجنسبازانو ټولنه (LSVD) کې مرسته موندلای شئ.
د دې اړیکو له لارې به تاسو د دوه جنسیت ، همجنسبازی ، ټرانس او انټر پېژندنې/هویت (LSBTI*) د موضوع په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ. د رواني تکلیفو په ستونزو کې کولای شئ چې د رواني خدماتو د ځانګې له خوا ښه ملاتړ تر لاسه کړئ.

## د تحقیر/سپکاوي ضد ځانګه سکسن-انهالت هالیشه یوګندویرکشتات ګې ایم بی ها Sachsen-Anhalt Hallesche Jugendwerkstatt GmbH

دا د هغو خلکو لپاره مرکزی او خپلواک د تماس او مشورې مرکز دی چې د ژوند په بیلابیلو برخو کې یې زیانونه تجربه کړی وي.

دا هغه اغیزمنو کسانو ته متخصصي مشورې ورکوي او د هغو ملاتړ کوی چې هغو
● د قومي اصلیت
● جنسیت
● دین یا عقیده
● معلولیت
● عمر
● جنسي هویت
له کبله تحقیر یا سپکاوي لیدلي وي.
د سپکاوي په ضد اداره تاسو ته غوږ نیسی او د مشورې په لټه کسانو سره یوځای ممکن حلونه لټوي او په نورو ګامونو کې یې بدرګه کوي.
مشورې وړیا او مخفي دی. د اړتیا په وخت کې د یوې ژباړونکې یا یو ژباړونکي بند او بست هم کېدی شي او ددې لګښتونه به په غاړه واخیستل شي.

## اینتکنوتن – Entknoten د ورځنی نژاد پرستۍ او تبعیض پروړاندې د مشورې مرکز د مهاجرو سازمانونو دولتی شبکه ساکسونی انهالت (LAMSA)

**تاسو کولی شئ د تبعیض پر وړاندې د ځان دفاع وکړئ!**
آیا تاسو ته څوک اپارتمان په کرایه نه درکوي؟
ایا ستاسو غوښتلیک په نظر کې نه نیول کیږي؟
ایا دولتی کارکوونکی له تاسو سره غیر عادلانه چلند کوی؟
ایا له تاسو سره بې احترامی کیږی؟
ایا په مغازو / بانکونو کې د تاسو خدمت څوک نه کوي؟
که تاسو د نژادی او قومي یا مذهبی امتیازونو له امله زیانمن شوی یاست ، نو دا تبعیض دی. تبعیض منع دی. تاسو حقونه لرئ او کولای شی له ځانه دفاع وکړئ.
**موږ ستاسو ملاتړ کوو!**
موږ تاسو ته غوږ نیسو. که تاسو غواړئ ، موږ به له تاسو سره د حل لارې ومومو او په ټولو مرحلو کې به تاسي ستاسو په لاره کې بدرګه کړو. موږ ...
● د پوښتنو کولو او د څېړنې کار په غاړه اخلو
● د اعتراضو لیکونه لیکو
● د خبرو اترو لپاره تاسو بدرګه کوو
● د قانونی ګامونو په اخیستنه کې ستاسو سره مرسته کوو
● تبعیض په ښکاره څرګندوو
**موږ تاسو ته په شخصی ، مخفي او وړیا توګه مشورې درکوو.** که تاسو غواړئ ، په مستعار ډول هم. موږ په خپلواکه توګه کار کوو. موږ ستاسو له اجازې پرته هیڅ شی له خپلو نه کوو. که اړتیا وی ، نو موږ د تاسو د تګ راتګ لګښتونه هم په غاړه اخیستلای شو او د ژبې د منځګړیتوب / د ژباړونکي بند او بست کولای شو.

## ډیموکراسي او بشري حقونه:
## زموږ د ګډ ژوند بنسټونه

**د مهاجر په توګه تاسو په المان کې د پناه غوښتنه کوئ. زموږ هیواد د سیاسي تعقیب او د جګړې او کورني جګړې څخه خوندیتوب څخه د پناه درکولو ضمانت کوي.**

**دا قانون زموږ د ډیموکراتیک اساسي قانون یوه برخه ده. په دې  قانون کې ټول بنسټیز او بشري حقونه شامل دی، چې زموږ د ټولنې بنسټ جوړوی. په المان کې د خلکو اساسي حقونه د ۱۹۴۹ کال د المان اساسي قانون ، د ۱۹۴۸ کال د ملګرو ملتونو د بشري حقونو نړیواله اعلامیه او د ۲۰۰۰ کال اروپایي اتحادیې د اساسي حقونو منشور کې تضمین شوي.**
**د ماشومانو حقونه د ملګرو ملتونو د ۱۹۸۹ کال د ماشومانو د حقوقو په کنوانسیون کې تضمین شوي.**

- المان یو دیموکراتیک جمهوریت دی. د دولت مشر ، پارلمان او حکومت په دیموکراتیک ډول ټاکل کیږي ، همدارنګه  د ۱۶ فدرالي ایالتونو پارلمانونه او حکومتونه او د ښارونو او ښاروالیو ځان ځان ته حکومتونه دی. ټول انتخابات په مخفي توګه سرته رسیږي.

- هرڅوک حق لری چې خپل نظرونه په ازاده توګه څرګند کړي ، غونډې وکړي  او د خپلو نظرونو د ویلو لپاره مظاهرې وکړي. هرڅوک حق لری چې په دیموکراتیک ګوندونو، سوداګریزو اتحادیو یا د نورو سازمانونو غړي شي.

- په المان کې ډیر خلک په انجمنونو یا نوښتونو کې خپلو کلتوری ، ټولنیزو یا سپورتي غوښتنو ته وده ورکوي. دغه انجمنونه او نوښتونه د ټولنې لپاره ډیری دندې په غاړه اخلي.

- ټول خلک د قانون په وړاندې مساوی دی. حکومت او چارواکي د اساسي قانون له مخې کار کوي. هرڅوک چې وګوري چې په حقونو باندي یې پښه ښوول شوي وی، نو  کولای شي د شکایت کولو یا د محکمې په واسطه له ځانه دفاع وکړي او باید ددې کار په کولو کوم زیان تر لاسه نکړي. هرڅوک چې دولتي کارکوونکي ته د رشوت ورکولو هڅه کوي نو د سختي سزا سره به مخامخ شي.

- ښځې او نارینه یو شان حقونه لری. دا حقونه د خپل ژوند کولو د طرزالعمل ، د کار کولو حق او د مسلک ازاد انتخاب او همدارنګه د خپل عاید درلودل دي. ښځې په المان کې په ټولو مسلکونو کې کار کوی، د جګو پوستونو په شمول.

- ماشومان د داسي روزني حق لري چې له تاوتریخوالي څخه خالي وي. په دې شان دوی د ماشومتوب او د ښوونځي د زدکړو حق لري. میندې او پلرونه د خپلو ماشومانو د روزلو په برخه کې مساوی حقونه لرې.
والدین کولی شی د ورځې پاملرنې مرکزونو او ښوونځیو کې د والدینو استازو ته خپل خپل نظرونه ووایې.

- هر څوک حق لری چې د هغوی سره په احترام چلند وشی. د فزیکي ځواک هر ډول کارول منع دی.

- هر څوک حق لری چې خپل دین په ازادانه توګه عملي کړی. په المان کې ډیر خلک پروټسټنټ یا کاتولیک عیسویان دی ، او په المان کې ډیری دولتي رخصتۍ او ډیر دودونه عیسوی عنعنه لری.
د المان کلتور هم د یهودانو لخوا په کلکه جوړ شوای ده. نن ورځ ډیر مسلمانان په المان کې ژوند کوی.
دلته ډیری نورې مذهبي ټولنې او ډیر خلک شتون لری چې هیڅ مذهبي عقیده نلری. هیڅوک نشی کولی د دوی د عقیدې یا باور پراساس تبعیض شی. د بیان ازادی دغه حق هم لري چې په مذهبونو یا مذهبي ټولنو باندي انتقاد وشي.

- هیڅوک نشي کولی د اصلیت ، د پوستکي رنګ ، جنسیت ، جنسي تمایل ، عمر یا معلولیت پراساس تبعیض شي. همجنسبازان مجبوره نه دی چې په جرمني کې ځان پټ کړی او کولای شي چې خپله د ژوند ملګرتیا د دولت له خوا د واده په توګه نورو ته په رسمیت ور وپیژني.

**دا اساسي حقونه د یو بل سره د درناوی او حوصلې تعامل بنسټ جوړوي.**

- د ملي سوسیالیزم (۱۹۴۵–۱۹۳۳) تر مشرۍ لاندې د المان د جرمونو سره مخامخ کول په المان کې مهم رول لوبوی. نژاد پرستي او سیکولریزم په ټولنیز ډول منع دی. د یهودانو د نسل وژنې څخه انکار کول جرم دی.

**ډیموکراسي په دې وده کوي، چې خلک په هر څه کې ګډون وکړي او د خپلو ګټو لپاره هلي ځلي وکړي.**
**دا امکانات د مهاجرو لپاره هم شتون لري.**
**ډیري ټولنې په ځانګړې توګه خوشحاله کیږي کله چې تاسو خپله علاقه ښکاره کړئ.**
**ډیر کډوال پخپله سازمانونه تاسیس کړی چې په المان کې د سوله ایز ګډ ژوند او همغږیتوب کې اړینه ونډه لری.**

# تاکل شوې اډرسونه او اړیکي

## الإقامة

- په زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt کې مهاجرین
  www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/netzwerke/beratungsstellen/
  migrationsberatung-fuer-erwachsene-mbe/

- د استوګنې د قانون په اړه مشوره او ملاتړ د زاکسون انهالت Sachsen-Anhalt د کډوالو شورا چې په خپله تنظیم شوې ده ا مګډبرګ Magdeburg
  www.fluechtlingsrat-lsa.de
  +49 391 5371281

- د پناه غوښتونکو لپاره د کاریتاس Caritas د کډوالۍ معلومات
  په زاکسن انهالت ایالت Sachsen-Anhalt کې (د پناغوښتنې د کډوالۍ لپاره مشورتي دفترونه) هالبرشتات Halberstadt
  www.caritas.de
  +49 3941 609300

- د المان د سره صلیب د ناارامۍ له امله جلا شویو کورنیو لپاره د لټونې خدمتونه ـ د زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt سیمه ییزه ټولنه
  په خپله خوښه بیرته راستنیدنه
  www.sachsen-anhalt.drk.de
  +49 391 6106890 (MD)

- د زاکسن انهالت د ایالت Sachsen-Anhalt د بیرته ستندېدا مرکز. د مشورې ځای دریم هیواد ته دبرته ستنېدا لپاره.
  www.magdeburgerstadtmission.de/arbeitsgebiete/
  kompetenzzentrum-rueckkehr/

## کار او مسلکي زدکړې

- د ای کو IQ شبکه سکسن انهالت - Sachsen-Anhalt د پېژندنې او وړتیا مشاوره هاله / Halle هالبرشتات Halberstadt
  www.sachsen-anhalt.netzwerk-iq.de
  +49 345 686948-23/-15/-21 (HAL) / +49 391 40805-15/-10/-13 (MD)

- په فوکس کې متخصص (FiF)
  په کار کې د بهرنیو ماهرو کارګرانو لپاره ښه راغلاست
  www.fachkraft-im-fokus.de
  49 152 537 729 43 (HAL), +49 173 8498 196 (MD)

- جوبروکه پلوس Jobbrücke PLUS
  په کار کې د پناه غوښتونکو او کډوالو ادغام او مسلکي زدکړې مګډبرګ Magdeburg
  www.jobbruecke-chance.de
  +49 391 7279882

- بلیک پونکت :Blickpunkt کډوالې ښځې ـ په زاکسن انهالت کې د مهاجرو ښځو د کار په بازار کې ادغام د کاریتاس Caritas کلتورونو د مینځنې اړیکو د مشورې او راشې درشې او د خدمتونو مرکز
  E-Mail: christiane.pruschek@caritas-magdeburg.de
  +49 391 40 80 526 / 527 / 520 // +49 151 46152310

## روغتیا او ساتنه

- په زاکسن انهالت ایالت Sachsen-Anhalt کې د امېدوارو لپاره مشورتي دفترونه
  www.ms.sachsen-anhalt.de/schwangerschaftsberatungsstellen

- په ZAST کې ستاسو د ماشومانو لپاره د تفریح فعالیتونه: د کریتاس زده کړې ورکشاپ
  katja.lukanow-arndt@caritas-halberstadt.de
  +49 152 55 81 86 82

### مساندة ومساعدة للنساء

- د مهاجرو ښځو لپاره استوګنځی هاله Halle
  www.migration-paritaet-lsa.de/ffh
  +49 345 5238115

- د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی پر وړاندې د مبارزې کمېسیون
  www.frauen-gegen-gewalt.de
  +49 30 322 99 500

- ښځې د تاوتریخوالې پر ضد ای. فاو.
  www.hilfetelefon.de
  +49 8000 116016

- ویرا -Vera د ښځو د قاچاق او اجباری ودونو پروړاندې متخصص دفتر
  www.awo-sachsenanhalt.de
  +49 391 4015371

# لورموندنه او ټولنيز ادغام

## اړيکي موندل په ورځنی ژوند کې ملاتړ

- **د کړوالو/راتګ د ملاتړ لپاره مشورتی خدمتونه او شبکې**
  www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/netzwerke/

- **زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt ته ښه راغلاست**
  www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/willkommen/willkommensinitiativen/

- **د رضا کارانو د اداري د ښه راغلاست غونډه په هاله۔زالکرایس ای فا کي**
  **Halle-Saalkreis e.V.**
  www.freiwilligen-agentur.de/themen-und-projekte/engagiert-fuer-fluechtlinge/

- **د کړوالو د سازمانونو دولتی شبکه Halle e.V. (LAMSA) Sachsen-Anhalt**
  www.lamsa.de +49 345 17164890

- **د مهاجرت لاربود „هاله Halle ته ښه راغلاست“ او „مګډبرګ Magdeburg ته ښه راغلاست“**
  www.willkommen-in-halle.de /
  www.willkommen-in-magdeburg.de

## په ځانګړو شرایطو کې ملاتړ

- **د کوښتوب د معیوبیت لپاره د مشورې مرکز هالبرشتات / Halberstadt ماګدبورګ / Magdeburg شتیندل Stendel**
  +49 3941 612545 (HBS) / +49 391 6272916 (MD) / +49 3931 712736 (ST)

- **د ړندو ټولنه او د هغو کسانو چې په سترګو سم نه ويني د ساکسن۔انهالت Sachsen-Anhalt ايالت دولتي اداره مګدبورګ Magdeburg**
  www.bsv-sachsen-anhalt.de | +49 391 2896239

## د ژبي په معیوبیت کې مرسته

**په زاکسن انهالت کې د مهاجرو لپاره د ژبې تليفوني منځګړيتوب / ژباړنه (SiSA)**

www.lamsa.de | +49 345 21389399

**د ګونګانو د ژبې ژباړونکو لپاره دولتي ټولنه (LAG)**

**ساکسن۔ انهالټ ای فاو .Sachsen-Anhalt e.V**

+49 345 6890010
ldz.leps@gmx.de // lbst.traut@gmx.de

## د ښځو پناه ځای د مشورتی مرکزونو سره

- Burg: www.skz-burg.bplaced.net/maedchen-und-frauenzentrum-tea-treff/
  Magdeburg: www.courageimvolksbad.de
  Dessau: www.frauenzentrum-dessau.de
  Halberstadt: www.ufv-halberstadt.de
  Wernigerode: www.frauenzentrumWR.de
  Wolfen: www.Frauenzentrum-Wolfen.de
  Halle: www.dornrosa.de

- **د تبعیض ضد اداري زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt**
  antidiskreminierungsstelle@jw-frohe-zukunft.de
  +49 176 20 44 69 29 // +49 391 79 29 33 74

- **اینتکنوتن - Entknoten د ورځنی نژاد پرستۍ او تبعیض پروړاندې د مشورې مرکز د زاکسن انهالت د مهاجرو ایالتی سازمانونه (LAMSA)**
  +49 391 99 07 88 87 | WhatsApp: +49 152 56 03 47 47
  entknoten@lamsa.de

## د ژنوفوبی / د پردو ددښمنی د بریدونو په صورت کې مرسته

- **د ښی اړخه تاوتریخوالی قربانیانو لپاره ګرځنده مشورې**
  **miteinander e.V. Halle / Magdeburg / Salzwedel**
  www.mobile-opferberatung.de
  +49 345 2 26 71 00 (HAL) / +49 391 6 20 77 52 (MD) / +49 3901 30 64 31 (SAW)

## د جنسی هویت او روغتیا مسلو په اړه مشوره

- **د همجنس او ګی انجمن ساکسون انهالت (LSVD) Sachsen-Anhalt مګډبرګ Magdeburg**
  www.sachsen-anhalt.lsvd.de
  +49 391 5 43 25 69 // +49 179 9 32 96 14

- **د ایډز۔مرستي (هاله / Halle ساکسن ۔ انهالټ Sachsen-Anhalt Süd e.V., Sachsen-Anhalt Nord e.V.)**
  **Halle / Magdeburg**
  halle.aidshilfe.de / www.aidshilfesachsenanhaltnord.de
  +49 345 5821271 (HAL) / +49 391 5357690 (MD)

## خپرونی

**خپرونکی:** د بهرنیانو ټولنه ساکسن_انهالت اي فاو .Sachsen-Anhalt e.V د ساکسن_انهالت Sachsen-Anhalt
د دولتي ادغام نماينده په امر، سوسي موبيک Susi Möbbeck

**اډرس:**
einewelt Haus – Schellingstraße ٣-٤ – ٣٩١٠٤ Magdeburg

Internet: www.agsa.de

Krzysztof Blau, Geschäftsführer der AGSA

**ليکنه او د ليکونکو هيئت:** Dr. Ernst Stöckmann

**تشکيل او بڼه:** Matthias Ramme

**تصويرونه / Piktogramme (سمبولونه، کوم چې د ګرافيک له لاري معلومات څرګندوي.)** Ka Schmitz



د دې کتاب محتويات د تاليف کوونکي د حق لرلو لخوا خوندی دی. د متونو چاپول ، انځورونو يا عکسونو بيا چاپ کول يا په بريښنايي سيستمونو کې د دوی کارول يوازې د خپرونکی د خطي اجازې سره ممکن ده.
اصلاح شوی او پراخ شوی ۲. نسخه ۲۰۲۱ © ټول حقونه خوندی دی



دا خپرېدنه د ساکسن انهالت ادغام د انټرنيټي او معلوماتي پاڼه Integrationsportal Sachsen-Anhalt د ساکسن انهالت د بهرنيانيو د ټولنې د پروژې .Auslandsgesellschaft Sachsen-Anhalt e.V د برخې په توګه چمتو شوي ده.له دې پروژې سره د کار ، ټولنيزو چارو ، روغتيا او مساواتو وزارت ملاتړ کړای.

AGSA

SACHSEN-ANHALT
Ministerium für Arbeit, Soziales, Gesundheit und Gleichstellung

#moderndenken

WELTOFFEN WILLKOMMEN Sachsen-Anhalt


**دا بروشر (کوچنۍ مجله) په نورو ژبو هم د زاکسن_انهالت Sachsen-Anhalt د ادغام په انټرنيټي او معلوماتي پاڼه کې لوستلای شئ:**

www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/willkommen/erstinformationen-fuer-fluechtlinge/

**تاسو کولی شئ دا بروشر(کوچنۍ مجله) دلته په ټولو موجودو ژبو کې سپارښت کړئ:**

integrationsportal@agsa.de

## اضافي معلومات

**په زاکسن انهالت Sachsen-Anhalt کې د ژوند کولو څرنګوالی په اړه د معلوماتو سره د ادغام وړاندیزونه وموميځ ـ د ژوند کولو ، کار کولو ، زدکړې چې نيولي تر روغتيا او نورو موضوعاتو پورې – دغه معلومات د نوي مهاجرينو لپاره په لاړښود کې موملای شئ:**

www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/willkommen/wegweiser-fuer-neueingewanderte/